# صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز منگل مورخہ 16 جنوری 2018ء بمطابق 28 ربیع الثانی 1439 ہجری بعد از دوپہر تین بجکر تیس منٹ پر منعقد ہوا۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر، مہر تاج روغانی مسند صدارت پر متمکن ہوئیں۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ۔ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ۔

فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّۃُ الۡکُبۡرٰی ○ یَوۡمَ یَتَذَکَّرُ الۡاِنۡسٰنُ مَا سَعٰی ○ وَبُرِّزَتِ الۡجَحِیۡمُ لِمَنۡ یَّرٰی ○ فَاَمَّا مَنۡ طَغٰی ○ وَاٰثَرَ الۡحَیٰوۃَ الدُّنۡیَا ○ فَاِنَّ الۡجَحِیۡمَ ہِیَ الۡمَاۡوٰی ○ وَاَمَّا مَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّہٖ وَنَہَی النَّفۡسَ عَنِ الۡہَوٰی ○ فَاِنَّ الۡجَنَّۃَ ہِیَ الۡمَاۡوٰی۔

(ترجمہ): تو جب بڑی آفت آئے گی۔ اس دن انسان اپنے کاموں کو یاد کرے گا۔ اور دوزخ دیکھنے والے کے سامنے نکال کر رکھ دی جائے گی۔ تو جس نے سرکشی کی۔ اور دنیا کی زندگی کو مقدم سمجھا۔ اس کا ٹھکانہ دوزخ ہے۔ اور جو اپنے پروردگار کے سامنے کھڑے ہونے سے ڈرتا اور جی کو خواہشوں سے روکتا رہا۔ اس کا ٹھکانہ بہشت ہے۔ وآخِرُ الدَعۡوَانا اَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: جزاکم اللہ۔ رَبِّ اشْرَحْ لِی صَدْرِی ۙ وَیَسِّرْ لِیٓ اَمْرِی ۙ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِی یَفْقَھُوْا قَوْلِی ۔

مفتی سید جانان: پوائنٹ آف آرڈر، میڈم سپیکر!

جناب منور خان ایڈوکیٹ: پوائنٹ آف آرڈر۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: پوائنٹس آف آرڈر سارے میں بعد میں لوں گی، میں نے آفس میں، چیمبر میں بتایا تھا ان کو، نگہت کو بھی بتایا تھا، بعد میں لوں گی۔ We start, there are some leave applications, I take it, certainly I take it, I promise you.

## اراکین کی رخصت

محترمہ ڈپٹی سپیکر: یہ کچھ چھٹیوں کی درخواستیں ہیں: جناب اعظم درانی صاحب، جناب الحاج صالح محمد خان، سردار ظہور احمد، مسماۃ رقیہ حنا، جناب فضل حکیم، جناب افتخار علی مشوانی اینڈ جناب حاجی انور حیات صاحب،Leave may be granted یہ اجازت ہے جی؟

(تحریک منظور کی گئی)

Madam Deputy Speaker: Okay, Shahram is here, so we start with the Questions Answers.

مفتی سید جانان: میڈم سپیکر! تا سو تہ ما پرون وئیلی وو۔۔۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: دیکھیں، پانچ پوائنٹس آف آرڈر ہیں میرے پاس، I definitely, I promise you لیکن۔۔۔۔۔

(شور)

(گیس کی رائیلٹی نہ ملنے پر مفتی سید جانان رکن اسمبلی احتجاجاً ڈائس کے سامنے بیٹھ گئے)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: شہرام خان! ان کو ذرا منائیں پلیز۔۔۔۔۔

(شور)

(چند اراکین اسمبلی مفتی سید جانان کیساتھ یکجہتی کیلئے احتجاجاً سپیکر ڈائس کے سامنے بیٹھ گئے)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: تمام ممبران سے ریکویسٹ کی جاتی ہے کہ آپ اپنے اپنے سیٹس پر بیٹھ جائیں اور مولانا صاحب کو میں بات کرتی ہوں، وہ میری مان جائیں گے۔

(مفتی صاحب بدستور احتجاجاً سپیکر ڈائس کے سامنے زمین پر بیٹھے رہے)

(اراکین کی نعرہ بازی اور شور)

Madam Deputy Speaker: Order in the House, please.

محترمہ زرین ضیاء: کورم پورا نہیں ہے۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: اودریږه چې کاؤنټ کړو کنه، شهرام! تاسو پخپلو سیټونو کېنیئ، تاسو کېنیئ، بھئ! آپ اپنی اپنی سیٹ پر بیٹھ جائیں، دا خپل خو اولیږه امتیاز صاحب!

جناب قربان علی خان: میڈم! میرا یہ مائیک آن کردیں۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: قربان صاحب کا مائیک آن کردیں، قربان کا مائیک آن کردیں۔ سیکرٹری صاحب! پلیز ذرا کاؤنٹ کرلیں، ممبرز کاؤنٹ کرلیں، ممبرز کو کاؤنٹ کرلیں۔

(اراکین کی نعرہ بازی اور شور)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: کورم کمپلیٹ نہیں ہے، آپ ذرا اپنی کرسیوں پر بیٹھ جائیں، میں ذرا کاؤنٹ کرلوں۔ کرسیوں پر بیٹھ جائیں، کاؤنٹ کرتے ہیں کاؤنٹ۔ آپ اپنی اپنی کرسیوں پر بیٹھ جائیں، میں کاؤنٹ کرلیتی ہوں، یہاں سے مشکل ہے۔ نصر اللہ صاحب! دغه ځائې نه ئے کاؤنټ کړه، څومره دی؟

(اس مرحلہ پر گنتی کی گئی اور کورم پورا نہیں تھا)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: پلیز ذرا Bell دو منٹ کیلئے بجادیں، Bell for two minutes, please, bell for two minutes please.

(اس مرحلہ پر گھنٹیاں بجائی گئیں)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: Bell تو بج رہی ہے، آپ نہیں سن رہے ہیں؟ پلیز دوبارہ کاؤنٹ کرلیں، کاؤنٹ کرلیں، کاؤنٹ کرلیں۔

(اس مرحلہ پر دوبارہ گنتی کی گئی اور کورم پورا تھا)

(اس مرحلہ پر مفتی سید جانان رکن اسمبلی اٹھ کر اپنی کرسی پر بیٹھ گئے)

## رسمی کارروائی

<u>محترمہ ڈپٹی سپیکر:</u> تھینک یو مولانا صاحب، تھینک یو، مولانا صاحب، مولانا صاحب، جی مولانا صاحب۔

<u>مفتی سید جانان:</u> بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ میډم! زه ستاسو مشکور یم او زما دا څه عمل چې وو، زما تاسو سره مناسب نه وو، دا ما اوکړلو، دا ما څه په جذباتی انداز کښې نه دے کړے چې زه په جذباتو کښې راغلې یم دا ما کړے وی خو بحیثیت ممبر ما په دې اسمبلی کښې بار بار وئیلی وو چې دا د دې صوبې لویه جرګه ده او ممبر که خپل فریاد راوړی دغې اسمبلئ ته به ئے راوړی او منسټر مخکښې او ستاسو مخکښې به میډم! ایږدی۔ میډم! یو ظلم وی او یو ظلم ناروا وی، ما سره چې کوم کیږی ظلم نه دے، دا ظلم ناروا ما سره کیږی او زه داسې هم نه یم چې ما چاته وئیلی نه وی، زه راغلے یم او زه دلته ناست ووم، میډم! دا د سن 14-2013 ګیس رائیلټی ده، 14-2013 کښې ما سره بل زما ملګرے دے، ایم پی اے صاحب دے، قابل احترام دے، هغه خپلې پیسې درویشت (23) کروړه روپئ ملاؤ شوې، ما ته دس کروړ ملاؤ شوې، نورې روپئ زما حصه پاتې شوله، دس کروړ پچاسی لاکه روپئ زما حصه پاتی شوه۔ ما دلته په اسمبلئ کښې په ریکارډ باندې شته دے، مظفر سید صاحب سره د دغه اسمبلئ، عنایت الله صاحب یو اوږد ډیبیټ اوکړلو او دا ئے وئیلی وو چې دا د مفتی صاحب حق دے، بیا په هغې باندې تحریک استحقاق راوړلو، کمیټی ته لاړلو، کمیټئ کښې درې فیصلې زما په حق کښې اوشوې چې دا د مفتی صاحب حق دے، دا دوئ ته ورکړئ۔ میډم! زما خبره هیچا نه واوریدله،زه به امر مجبورئ پیښور هائی کورټ ته لاړم، هغو ته مې اووئیل چې ما سره ظلم کیږی، زما ګیس رائیلټی ده، زما حق دے او ما ته ئے نه راکوی۔ پشاور هائی کورټ زما باره کښې دا فیصله اوکړه چې دا د مفتی صاحب حق دے، دا ورته ورکړئ۔ بیا میډم! پکار دا ده چې ما ته ملاؤ وے، انصاف تقاضه دا ده چې ما ته خپل حق ملاؤ وے چې یو پشاور هائی کورټ دا فیصله کوی بیا ما ته پکار ده چې ملاؤ وے۔ میډم! هغې باوجود ما ته پیسې نه شوې ملاؤ۔ په سن 2016ء کښې تیر کال 2017ء کښې ما بیا توهین عدالت کیس داخل کړلو، توهین عدالت کښې په 14 مئ باندې پشاور هائی

کورټ دا فیصله اوکړه چې یا د چیف سیکرټری، فنانس سیکرټری ته لاړ شی او هغه د مفتی صاحب ته فنډ جاری شی۔ په چوده مئ باندې ما ته فنډ جاری شولو، هلته د صوبائی حکومت په اشارې باندې ډی سی ورځې لرې وے فنډ ئے بیا Lapse کړو۔ میډم! مونږ افتتاح ګانې اوکړلې، دا زما عزت دے ستا عزت دے، ته زمونږ مشره ئې، که زما عزت ته خپل عزت نه شمارې میډم! بیا به زه ستا عزت خپل عزت نه شمارم۔ میډم! هغې نه بعد زه بیا راغلم، فنانس سیکرټری ته مې دا ژولئ خوره کړه چې سیکرټری صاحب! دا خو نورې پیسې خو خود پریږده وه نورې راته نه راکوی خو دا خو د 14-2013 والا فنډ دے، کم از کم دا خو راته راکړئ، مونږ افتتاح ګانې اوکړلې، خلقو مونږ باندې ویډیوز جوړې کړې فیس بکونو کښې، څه ئے اوکړلو، یو ټپوس کوی یو روډ افتتاح ما کړی ده، ټپوس کوی چې فنډ څه شولو، روډ باندې کار نه شروع کیږی، هغه ورته وائی چې ما پیسې خوړلی دی څه ګرځه دا فلمونه مونږ باندې جوړ شولو۔ میډم! هغې نه بعد زه راغلم سپیکر صاحب ته مې درخواست ورکړو چې خدائے د پاره دا زما د عزت مسئله ده، ما پسې خلق بدې ردې وائی، بیا هغه نه لاړم ګوهر ایوب صاحب ته چې کوم د سی اینډ ډبلیو ایډوائزر دے منسټر صاحب دے، هغه ته وراغلم، هغه ته مې دوه ځلې درخواست ورکړلو چې ته سی ایم صاحب سره خبره اوکړه، مونږ ته نه راکوی خو د ستا محکمه خو ده کنه، ټینډرې دوئ اوکړلې هر شے دوئ اوکړلو، کم از کم هغه باندې واضح شوله۔ سی ایم صاحب ته تقریباً څلورو میاشتو نه زه ورځم دغې کمرې کښې ناست وی، مونږ ته وائی چې هغه بلې ته لاړلو، نه ملاویږی مونږ سره۔ بیا میاں جمشید الدین کاکا خیل هغه ته وراغلم، هغه ته مې درخواست اوکړلو چې میاں صاحب! وزیر اعلیٰ صاحب ته وایه چې زما د عزت مسئله ده، زما دس کروړ پچاسی لاکه روپئ دی، زړې روپئ دې، نورې که نه راکوئ دا خو راته راکړئ کنه، هغه ځائې کښې خبره نه واوریدلې شوله۔ چیف سیکرټری ته مو درخواست ورکړو، وراغلم ورته مې اووئیل چې چیف صاحب! دا مسئله ده، خدائے د پاره خو هیچا زما مسئله وانوریده او دې نه بعد ئے نه اوری۔ زه دغو خبرو سره، دا ما سره ټول فهرست ما سره دے د هنګو، اوس دغه وخت کښې 93 کروړ 45 لاکه 39 هزار روپئ اوس هم د دغې صوبې

پیسې بقایا دی، مونږ ته نه ملاویږی خو زه هغې نه نه وایم هغه خو ان شاءالله العظیم یوه ورځ شته دے، تاریخ به دا لیکی چې د انصاف وخت کښې ممبرانو سره دا انصاف کیدلو، دا به ان شاءالله تاریخ لیکی، زما د دس کروړ پچاسی لاکھ روپئ سوال دے چې آیا د صوبائی اسمبلئ نه دا وزیر اعلیٰ صاحب لوئې دے، سټینډنګ کمیټئی نه لوئې دے، پشاور هائی کورټ نه لوئې دے، بیا ممبر ورځی، ممبر سره نه ملاویږی۔ میډم! ته ما ته اوښایه زه چرته لاړ شم، خدائے پاک ته ورشم، کوم ځائې ته لاړ شم، چا ته اووایم زه، چا ته زه فریاد اوکړم؟ زه به بیا د دغو خبرو نه بعد اوس ستا مخکښې کښینم۔ پرون ما وئیلی وو چې ما سره ظلم کیږی، ما سره ناانصافی کیږی، ما سره داسې کار کیږی، زه وایم چې انډیا کښې به هم داسې ممبرانو سره نه کیږی، ولې کیږی مونږ سره؟ زما خپل حق دے، زه تا نه په سوال پیسې نه غواړم، دا زما خپله د ګیس رائیلټی ده، 93 کروړ مو درسره پرتې دی، هغه نه راکوې دا بیالیس حلقې ته ورکوې، ما ته ولې نه راکوې؟ اول ګیس کوهیان 43 حلقې کښې وتلی دی، کرک پسې ما ته ولې خپل حق نه ملاویږی۔ زه چې ستا مخې ته نه کښینم، زه به چا ته کښینم، چا ته ورشم؟ دغو ممبرانو ته زه به د شهرام ترکئ منسټر صاحب نه درخواست وکړم چې زه چا ته ورشم؟ ته راته ځائې اوښایه؟ بی بی! تا ته به وایم چې زه چا ته ورشم، کوم ځائې ته ورشم؟ لاء منسټر صاحب تشریف فرما دے، د دوئ دفتر ته زه ورغلم، ګل صاحب خان ورسره ناست وو، مخامخ ناست دے، دوئ ته مې اووئیل چې ګوره که کیبنټ کښې دامسئله اوچتیدله، زمونږ دا د عزت مسئله ده دا اوچته کړه۔ میډم! زه چا ته لاړ شم، زه د چا ته مخې ته نه کښینم، زه به چرته کښینم؟ زه به اوس بیا ستا مخې ته کښینم تر هغې پورې به ناستووم چې زما فنډ دغه ځائې ته ما ته چا کاپی نه وی راوړلې، زه به هغې پورې که اسمبلی ختمه شی بهر به هلته کښینم او دنیا ته به دا ښایم چې دا انصاف دے، او تا ته 29 ارب روپئ ګیس رائلټی ستا دې صوبې ته ملاؤ ده، دا د ستا بجټ بک دے۔ دا ستا بجټ بک دے، په 29 ارب روپئ کښې زما دا قصور دے چې صرف د اپوزیشن ممبر یم، زما دا قصور دے چې زه حق خبره کوم، زما دا قصور دے چې زما جمیعت علماءاسلام سره تعلق دے۔ تا ته د هنګو، کرک، کوهاټ، تا ته 29 ارب روپئ سالانه

د رکوی، 29 ارب روپئ کښې زما دس کروړ پچاس لاکھ روپئ حصه نشته دے،
دا ممبران چې خیژی په دې ډسکونو باندې ودریږی دا مجبورئ نه میډم!
ودریږی، هیڅوک لیونے پاگل نشته دے چې خپل عزت خرابوی خو عوامو ته خو
به هم مونږ څه وایو، زه خو به خپل عوام، امت ته خو به هم زه څه خبره کوم کنه۔
درخواست درته کوم، نه ئے اورې، خبره درته کوم نه ئے اورې، ملاویدو ته
درځم نه ملاویږې راسره، چې زه احتجاج نه کوم نور به څه شے کوم زه؟

محترمہ ڈپٹی سپیکر: ښه مفتی صاحب! زه یو ریکویسټ کومه، If you agree with that نو هغه ریکویسټ دا دے چې زه لاء منسټر او شهرام ته ریکویسټ کوم چې تاسو۔۔۔۔۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: زه به د لته میډم! کښینم، زه به د لته کښینم۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: میډم! زه یو خبره کوم، میډم! ما له به ټائم را کوئ۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: په دې خبره؟

جناب منور خان ایڈوکیٹ: او په دې باندې خبره کوم۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: په دې خیر دے، په دے۔

(شور)

(اس مرحلہ پر مفتی سید جانان رکن اسمبلی احتجاجاً سپیکر ڈائس کے سامنے بیٹھ گئے)

محترمہ زرین ضیاء: میڈم! کورم پورا نہیں ہے۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: دا کاؤنټنگ اوکړئ، لږ کاؤنټ اوکړئ۔

(اس مرحلہ پر گنتی کی گئی اور کورم پورا تھا)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: کاؤنټ پوره دے؟ جی منور صاحب، جی منور خان کا مائیک آن کردیں۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: میډم سپیکر! یقینی خبره ده چې دا مفتی صاحب کوم فریاد نن په دې اسمبلئ په فلور باندې اوکړو، خلق د عوام د ایم پی اے نه دا توقع ساتی چې دا زمونږ فریاد به په اسمبلئ کښې اوچتوی، که هغه گورنمنټ

سرونتس دی او که هغه نور کسان دی، خو افسوس مقام دا دے چې د اسمبلئ یو ممبر هغه پخپله چغې وهی، پخپله نعرې کوی چې یره ماسره انصاف اوکړئ، (شور) یو منټ، زه دا وایم چې میډم! (شور) پلیز یار پلیز! زه میډم! دا غواړم۔۔۔۔۔

Madam Deputy Speaker: Munawar Khan Sahib! Carry on.

جناب منور خان ایڈوکیٹ: میډم سپیکر! جې یو دې د دغې اسمبلئ ایم پی اے په دغه شان باندې چې نن په زمکه باندې ناست دے فریاد کوی، د هغه فریاد که زه ئے نن سپورټ نه کوم نو بل به ئے څوک سپورټ کوی؟ او دا صرف به مفتی صاحب سره نه کیږی، دا دې څومره ایم پی ایز، دا څومره اپوزیشن کسان ناست دی، دا هر کس سره دغه شان رویه روانه ده۔ زه د خپلې حلقې خبره کوم، زما حلقې ته دس کروړ روپئ Non elected کس ته ملاؤ شوې دی، ولې چې زه خپله د ډیډیک چیئرمین یم او هغه ما چې کله د دې متعلق پته اوکړه بیا ما ته جواب دا ملاؤ شو چې دا پیسې ستا نه دی، دا د فلانی کس پیسې دی هغه به دا استعمالوی، آیا زه دې د پاره دې اسمبلئ ته راغلے یم؟ آیا په اسمبلئ کښې چې کوم اے ډی پی سکیمونه دی، د دې اے ډی پی کومې پیسې دی په هغه باندې ته په مخه Non-elected کسانو ته پیسې ورکوې، دا مونږ د ټولو اپوزیشن کسانو دا احتجاج دے چې دا مفتی صاحب ناست دے، زه نن کم از کم دغه احتجاج کښې مفتی صاحب سره اول، دویم کس زه وررروان یم او زه هم مفتی صاحب سره کم از کم په دې احتجاج کښې شامل یم

(جناب منور خان ایڈوکیٹ، رکن اسمبلی احتجاجاً سپیکر ڈائس کے سامنے بیٹھ گئے)

محترمہ نگہت اورکزئی: میڈم! لیڈیز کیلئے بھی۔۔۔۔۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: نگہت بی بی، نگہت بی بی، نگہت بی بی!

(شور)

محترمہ نگہت اورکزئی: شکریہ جناب سپیکر۔

سید محمد علی شاہ: زه ډیر وخت نه ولاړ یم، ما له موقع راکړئ۔

محترمہ نگہت اورکزئی: بنه تا سوا و کړئ، ځئ ځئ۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: باچا صاحب، جی مائیک آن کرلیں باچاصاحب کا۔

سید محمد علی شاہ: هم دې حوالې سره يو خبره۔۔۔۔

(شور)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: محمد علی شاہ باچا! محمد علی شاہ باچا۔

جناب قربان علی خان: زه څه وئیل غواړم، ته ما له لږه موقع راکړه۔

سید محمد علی شاہ: څه ټهیک شوه، هغوئ ته، د هغوی نه پس به او کړم جی۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: You carry on، بیا راځم تا ته، محمد علی شاہ باچا۔

سید محمد علی شاہ: دا يو خبره کوم، ډیره مهربانی میډیم سپیکر۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: بیا راځم قربان، بیا راځم تاله۔

سید محمد علی شاہ: میډم سپیکر! دا مفتی صاحب چې کومه خبره اوکړه، دا یواځې د هنګو خبره نه ده، په ګیس رائلټی کښې، په نیټ هائیډل شیئر کښې، په ټوبیکو سیس کښې زما په خیال په دې اسمبلۍ کښې ډیر زیات ډیبیټ اوشو او هر ایم پی اے دا غواړی چې زمونږ ته خپل د حلقې د خپل ډسټرکټ شیئر مونږ، مونږ د صوبې دیکښې مونږه پارټیانې نه دی کړی میډم سپیکر! د وفاق سره چې کله دا مسئله راشی، مونږ که اپوزیشن دے او که حکومت دے مونږ په یو پیج باندې یو نو چې څنګه دا صوبې خپل شیئر غواړی په نیټ هائیډل کښې، په ټوبیکو کښې، په ګیس کښې، دغسې مونږ هم مجبوره یو میډم سپیکر! هره حلقې کښې اوس زما خپلې د حلقې د ملاکنډ خبره کوم، پچاس کروړ روپۍ زما په دوه کالو کښې د ملاکنډ تهری شیئر رسی زما د خپلې حلقې، بلکه د ډسټرکټ، او په پینځه کالو کښې میډم سپیکر! ما ته پینځه کروړه روپۍ ملاؤ شوی دی نو دا ظلم نه دے؟ مونږ خو ترې زیات فنډ نه غواړو خو کم از کم د خپلې حلقې Right غواړو، د خپلې حلقې حق غواړو میډم سپیکر! او په دې باندې سپیکر صاحب رولنګ ورکړے دے خو د سپیکر صاحب رولنګ د نن ورځې پورې Implement شوے

نه دے نو مونږ چرته لاړ شو، چا ته اوژاړو؟ سی ایم صاحب سره هم پکښې میټنګ اوکړو، منسټر صاحب دا دے مخامخ ناست دے، لس پیرې می هم دوئ ته وینا اوکړه، نور دا فورم دے دلته به مونږ خپل آواز اوچتوؤ، د خپلې حلقې حق به غواړو، نو د دې نه پس مونږ میډم سپیکر! چرته لاړ شو؟ کم از کم تاسو هم زما دا ریکویسټ دے چې څنګه د هنګو خبره ده داسې د ملاکنډ خبره ده، داسې د صوابئ خبره ده، داسې د مردان خبره ده، د هر ډسټرکټ خپل خپل شیئر کیږی نو مهربانی اوکړئ او فائنل فیصله، یو فائنل رولنګ به ورکړئ نو دا مسئله به هواره شی۔

(شور)

محترمہ انیسہ زیب طاہر خیلی: میڈم! میرا نمبر ہے

محترمہ ڈپٹی سپیکر: شوکت، یو منټ، قربان خان! پھر آپ کو، قربان خان کے بعد انیسہ بی بی۔

جناب بابر خان: میڈم! میں بھی بات کرنا چاہتا ہوں۔

جناب قربان علی خان: ډیره مهربانی، مننه۔ میډم سپیکر! دا زه، بابر! بابر! پلیز! میډم! تهینک یو ویری مچ، ما ته مو ټائم را کړو۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: بانګ وائی، اذان وائی۔

جناب قربان علی خان: دا پاکه نعره ئے زما په خبره اووئیل، دا زه په رشتیا وایم۔

(عصر کی اذان)

جناب قربان علی خان: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ ډیره مننه میډم سپیکر! شروع کوم په نامه د الله چې بخښونکے مهربانه دے خو یریږم د هغه وخت نه چې په سپینه ګیره باندې د مفتی صاحب غوندې خلق په زمکه کښیناستل، دا مونږ ته د شرم باعث ده۔ (شیم شیم کی آوازیں) میډم سپیکر! مفتی صاحب چې څه اووئیل چې څه ئے اووئیل هغه بالکل ټهیک وئیلی دی او چې د Day first نه دلته دا دغه اوچت کړے نو ما وئیلی وو چې دا د انصاف پارټی ده او زه به د انصاف خبرې کوم، په حقه لاره به ځم۔ ما سپیچونه اوکړل، دا د الله شان ته اوګوره چې ما ته اوسه پورې چارج شیټ ملاؤ نه شو ځکه چې ما په رشتیا وئیلی وو او ما ټهیک

وئيلی وو خو د هغې سزا ما ته دا ملاؤ شوه چې د دوؤ کالو نه ما ته يوه پيسه نيشته او دا واحده حلقه ده چې په هغې کښې فوکل پرسن مقرر شوې، هائی کورټ پکښې Stay راکړې ده، Stay نه پس زه Contempt of Court ته لاړ يم، هغې نه پس هم دې ساټهه کروړ روپئ زما خلاف لگی ځکه چې زه په رشتيا وايم نو هغه دې د پاره لگی چې قربان به اليکشن بيا نه گټی او تاسو نه زه نه غواړم، اليکشن ما باندې چې گټی الله به ئے راکوی، کم عقلو! دا تاسو ته چا وئيلی دی چې قربان به اليکشن تاسو په پيسو گټی، ما په دغه کښې چې عزت وی ما ته به خپل عوام بيا هم هغه عزت راکوی۔ زما حلقه ده، زه به ځم، زه به په هسکو ستر گو ځم، زما حکومت خلقو ته ورنکړو او په دې باندې زه ډير شرمنده يم او د دې د وجې مفتی صاحب سره زما پوره پوره دغه دے او که مفتی صاحب نن واک آؤټ کوی، زه ورسره يمه او که هره ورځ دا کوی نو هره ورځ به ورسره دا چل کوم ځکه چې نن دے که سبا دے دا ملک د زرغن شاه دے ۔ هسې هم ما ته پته ده، قيصه دغه شوې ده، بيا بيا دا خوبونه مه وينئ چې امانت تاسو امانت ته او نه رسولو نو الله به هم د رسره هغه کوی، والسلام۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: تهينک يو۔ شوکت، شوکت وائی د ډيپارټمنټ، شوکت۔۔۔۔

جناب شوکت علی یوسفزئی (پارلیمانی سیکرٹری): کیوں میرا حق نہیں ہے بولنا؟

محترمہ ڈپٹی سپیکر: شوکت، بيا تا له، شوکت۔۔۔۔

(شور)

جناب شوکت علی یوسفزئی (پارلیمانی سیکرٹری): نہیں، بھئ آپ مجھے بھی سنیں نا۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: شوکت، انیسہ بی بی نے پہلے۔۔۔۔

جناب شوکت علی یوسفزئی (پارلیمانی سیکرٹری): یہ اسمبلی ہے، ایک منٹ، ایک منٹ آپ سنیں نا۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: شوکت، انیسہ بی بی۔

محترمہ انیسہ زیب طاہر خیلی: تھینک یو، نہ نہ بس ایک منٹ، تھینک یو میڈم سپیکر!۔۔۔۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: انیسہ بی بی۔

محترمہ انیسہ زیب طاہر خیلی: میرا مطلب تھا کہ حکومتی بنچوں سے وہ تب بولیں جب ہمارے Points of view سن لیں (شور) میڈم، میڈم، اگر آپ ان کو (شور) میرا صرف مقصد یہ ہے، میرا مطلب کسی آنریبل ممبر کو نہیں Deprived کرنا لیکن ان کی حکومت ہے، حکومتی بنچوں کا دل بڑا کھلا چاہیئے، وسیع دل چاہیئے، وسعت قلبی چاہیئے، (شور) بات سن لیں، (شور) بات سن لیں، (شور) آپ بات سن لیں، بات سن لیں پھر اپنا Point of view دیں نا۔ آپ ایک طرف، ایک طرف آپ اگر ابھی تک کچھ-----

محترمہ ڈپٹی سپیکر: انیسہ، انیسہ بی بی۔

محترمہ انیسہ زیب طاہر خیلی: میڈم، میڈم میرا پوائنٹ سنیں۔ افسوس ہے، بہت افسوس ہے کہ ایک باریش انسان، مفتی صاحب جیسا ایک زیرک سیاستدان اس وقت زمین پر بیٹھا ہو لیکن مقصد صرف یہ ہے (شور) بات سن لیں، اگر آپ چاہتے ہیں کہ یہ سبوتاژ ہو جائے۔

(شور)

Madam Deputy Speaker: I just want to announce-----

(شور)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: یہ مائیک انیسہ بی بی کا-----

(شور)

محترمہ انیسہ زیب طاہر خیلی: میڈم! اگر آپ میرا پوائنٹ-----

(شور)

Madam Deputy Speaker: I want to announce, this is not a fish market and I am going to adjourn the Assembly, the Assembly is adjourned till 03:00 pm afternoon, 19th January, 2018.

---

(اجلاس بروز جمعة المبارک مورخہ 19 جنوری 2018ء بعد از دوپہر تین بجے تک کیلئے ملتوی ہو گیا)